# د ځنارو په باره کښې زړه راښکونکي سوال جواب

پښتو




شيخ طريقت، أمير أهلسنّت، باني دعوتِ إسلامي، حضرت علّامه مولانا أبو بلال
**محمّد اِلياس عطّار قادِري رَضَوي**
دامت بركاتهم العالية

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

دا رساله د امیرِ اهلِسنّت دامت برکاتہم العالیہ نه د شوو سوالونو او د هغې په جوابونو باندې مشتمله ده

# د ځناورو باره کښې زړه راښکونکي سوال و جواب

دُعائے عطار: یا ربّ المُصطفےٰ! څوک چې د 17 صفحو دا رِساله ”د ځناورو متعلق زړه راښکونکي سوال و جواب“ واورِي یا ئې اُولولي، هغه ته په ځناورو باندې رحم کوونکے زړه ورکړې او بے حسابه بخښنه ئې اُوکړې- اٰمین بِجاہِ النَّبِیِّ الْاَمین صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## دَ دُرود شرِیف فضیلت

یو بزرګ یو کس د وفات نه پس په خوب کښې اُولیدو او تپوس ئې ترینه اُوکړو : مَافَعَلَ اللهُ بِكَ؟ یعنی الله پاک تا سره څه معامله اُوکړه؟ هغه اُووئیل: الله پاک زما بخښنه اُوکړه- تپوس ئې ترینه اُوکړو په څه سبب؟ هغه اُووئیل: ما به د یو مُحَدِّث صاحب (یعني د حدیث شریف علم لرونکي) سره حدیثونه لِیکل، هغوئي په نبي کریم صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې دُرود شریف اُولوستلو ما هم په اُوچت آواز درود شریف اُولوَستلو او حاضِرینو چې واورِیدُو نو هغوئي هُم دُرود شریف اُولوستلو الله پاک د دې په برکت مونږ ټول اُوبخښلو- (القول البدیع، ص ۲۵۴)

اَعمال نه دیکھے یہ دیکھا محبوب کے کُوچے کا ہے گدا
مولا نے مجھے یوں بخش دیا سبحان اللہ سبحان اللہ

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## شيخ عثمان حِيرِي او زخمي خر (حکايت)

حضرت شيخ عثمان حيري رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه د يوې مالدارې کورنۍ سره تعلُّق لرَلو- يو ځل هغوئي خپل د ريښمو خادر په سر کړے وُو او مدرسے ته روان وُو، حالانکه د ريښمو خادر نارينه نه شي اِستعمالولے، خو دا دَ هغوئي د توبے نه مخکښې واقِعه ده- (په لاره) کښې ئي يو خر اوليدو چې په ملا باندې زخمي وُو او قارغانو هغه زخم په مښُوکو ټُونګولو، د هغوئي پرې ډير رَحم راغے او خپل د ريښمو خادر ئې لرې کړو او د خَر په زخمي ملا باندې ئي واچوَلو، دغه شان خر ته د قارغانو نه نجات مِلاو شو، هغه خر دوئي ته اُوکتل او غالباً دُعا ئي اُوکړه، اګر چې هغه دُعا اَورِيدلے نه شوه، خو په هغې د حضرت عثمان حيري رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه تقدير بدَل شو او هغوئي يو ډير لوئ بزرګ جوړ شو او د **الله** پاک په نيکانو بندګانو کښې شامل شو-

(تذکرۃ الاولیاء، ذکر ابو عثمان حیری، 2/47 ماخوذا)

## دَ ځناور مَدَد کولو باندې ثواب

**سُوال:** آيا د ځناور په مَدد کولو باندې اَجر ملاوِيږي؟

**جواب:** آو جي! په حديثِ پاک کښې تذکره ده چې ”يو ډير زيات ګناهګار کس وُو، هغه د يو کوهِي په خوا تيريدلو، هغه يو سپے اوليدو چې لـمده خاوره ختي، د سپي بهر راوتلي ژبه ئي چې اُوليدَله نو هغه ته دا اندازه اُوشوه چې دا ډير زيات ترږے دے، هغه خپله موزه اُوښکله، او په موزه کښې ئي اُوبه راويستلي او سپي باندې ئي اُوڅښلي- د **الله** پاک د هغه دا نيکي ډيره زياته خوښه شوه او د هغه بخښنه اوشوه- (بخاری، 1034/، حدیث: 6009 ماخوذا)

په ځناورو باندې رَحم کوَل او د هغوئي مدد کول ډير د ثواب کار دے- بعضې ماشومان پيشوګان د چت نه راغورزَوِي، وهي ئې، او د لکئ نه ئي اُونِيسِي اوچت ئي کړي او بيا ئي ښکته اُوغورزَوِي- هغوئي پوهه کول پکار دي، ځکه چې هغوئي په ناپوهتيا کښې داسي کوي- ځناور که پيشو وي او که سپے وي د **الله** پاک مخلوق دے، دوئي ته بے وجهې تکليف وَرکوَل

پکار نه دي، ځکه چې دا ګناه ده- حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ لیکلي دي چې ”د مظلوم ځناور او مظلوم کافر دُعا هُم قَبلیږِي-“ (مراٰۃ المناجیح، 3/300) اسلام د ظلم رَد کړے دے، په اسلام کښې ظلم بالکل نِشته- مونږ له مینه محبّت عام کول پکار دي او د ظلم نه بچ کیدل پکار دي په ځناورو باندې رَحم کوَل او هغوئي باندې خوراک ښښاک کول پکار دي ځکه چې په حدیثِ پاک کښې دي چې ”د هر لُوند ځِیګر والا ژوندي [ځیز سره نیکي کولو] کښې اَجَر دے-“ (بخاری، 4/103، حدیث: 6009 ملتقطا) نو ځکه که مونږ د ځناورو سره احسان او ښیګړه اوکړو نو ثواب به راته ملاؤ شي-

## آیا چیلۍ ساتل سنّت دي؟

**سُوال:** آیا چیلۍ ساتل سنّت دي؟ (د Facebook په ذریعه سوال)

**جواب:** آؤ جي! د حضور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمتِ اقدس کښې به چیلۍ حاضرې اُوسیدلي، بلکه مخصوصي د پیو والا چیلۍ به هُم وې- (عمدۃ القاری، 15/539، تحت الحدیث: 6459 ملخصا) په یو روایت کښې دي چې چیلۍ په کور کښې ساتل د محتاجۍ اویا دروازے بَندَوِي- (فردوس الاخبار، 2/12، حدیث: 3471) یعني په کور کښې چیلۍ ساتل دومره فائده مند دي د کور نه مراد (د بنده د خملاستلو کمره) نه ده بلکه د دې نه مراد د کور هغه مناسب ځائے دے کوم ځائے کښې چې چیلۍ ساتلې کیږي-

## څاروے خرڅول او د هغې په پیسو د میلاد لنګر کوَل څنګه دي؟

**سُوال:** که چا د مِیلاد دَ لنګر د پاره څاروے ساتلے وِي نو آیا هغه دا څاروے خرڅولے شي؟ او آیا بیا هغه رقم نیم په دې کال او باقي نیم رقم په راتلونکي کال باندې د مِیلاد په لنګر کښې خرچ کولے شي؟ (محمد عمران عطاری- لانڈهی کراچی)

**جواب:** که هم په دې کال ئې [د مِیلاد شریف د لنګر د پاره] د قربان کولو نیت کړے وُو نو هم

په دې کال ئې قربان کول پکار دي- خو داسې کول په ده باندې واجب شوي نه وُو- (فتاوٰیٰ رضویه، 589/13 ماخوذا) ځکه که ښاروے ئې خرڅ کړو او په نیم نیم رقم د میلاد لنګر اوکړي نو بیا هم صحیح ده او که اراده بدله کړي او لنګر اونکړي نو بیا هم ګنهګار نه دے، خو چې کله څوک نیت اوکړي نو بیا ترینه وروسته کیدل پکار نه دي-

## آیا هیریدل هم د الله پاک نعمت دے؟

**سُوال:** هِیریدَل د **الله** پاک نعمت دے "داسې وئیل څنګه دي؟"

**جواب:** ډیر زیات صُورتونه داسې دي چې په هغې کښې هِیریدل د **الله** پاک نعمت دے، لکه چا چې زمونږ سره بدسُلوکي اُوکړه او مونږ نه هِیر شو نو دا نعمت شو، ځکه چې که بنده ته بدسُلوکي یاده پاتې کیدلے نو هغه کس ته به ئې په زړه کښې غُصَّه وے، او د هغه بد به ئې وَئیلے او د هغه نه د اِنتقام اخستلو موقع به ئې کتلے چې که موقع مِلاؤ شي نو پریږدم به ئې نه- بعضې وخت بنده ماشومانو ته د وَهَلو رټلو په وخت کښې پته نه ده چې څه څه اووائي او ماشومان هغه هیر کړي، دا هیریدل د **الله** پاک نعمت دے، ځکه چې که د ماشومانو نه هیره نه شي او هم دغه شان ئې په زړه کښې اُوساتي نو مور پلار له به ژوند بد کړي- د ځناورو حافظه هم ډیره کمزورې وي، چې کله چیلے ترلے وو او تاسو په لښته وهلے وو، که هغه دا یاد اوساتي او هیر ئې نه کړي نو چې کله راخلاص شي او د لښتې بدله درنه په ښکرو واخلي نو څنګه به وي!! دغه شان نور ډیر صورتونه دي چې که په هغې کښې د انسان نه هِیر شي نو فائده مند وي- په تِرمِذي شریف کښې حدیث پاک موجود دے " حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام په هیره باندې د ونې نه خوراک اُوکړو، لِـهذا د هغوئي د اولاد نه هِیریدل شُروع شُو" (ترمذی،5/53، حدیث:3087) د دې حدیثِ پاک په شرح کښې په **مِرْاٰۃُالْمَنَاجِیح** کښې څه داسې لیکلي دي: "یعني آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه د ونې په تَعَیُّن کښې اِجتِهادي خطا اُوشوه او هغوئي دا اُوګنړله چې **الله** پاک صرف خاص د دې ونې د میوے خوړلو نه منع کړے یم او زه ئې د بلې ونې نه خورم، حالانکه ممانعت د جِنسِ

ونې نه وو، یا هغوئي دا اوګنړله چې زه ئې د خوراک نه نه یم منع کړے، بلکه د نزدې ورتللو نه ئې منع کړے یم- هم هغه خطا او هیریدل تر اوسه پورې په انسانانو کښې راروان دي-“
(مرأۃالمناجیح، 1/119117)

## آیا دَ حرام ځناور نوم اَخستلو سره 40 ورځو پورې لمُونځ نه قبلیږي؟

**سُوال:** آیا د حرام ځناور نُوم اَخستلو سره 40 ورځو پورې لمُونځ نه قبلیږي؟

(د سوشل میډیا په ذریعه سوال)

**جواب:** حرام ځناور خو پیشو او سپے هُم دي، خو یو مخصوص ځناور دے چې د هغې متعلق په خلقو کښې افواه خوره شوي ده او کیدے شي چې تپوس کوونکے هم د دې وجې نه د هغه ځناور نوم نه وي اخستے، حالانکه د هغه ځناور نوم په قرآن کریم کښې هم راغلے دے او هغه حرام ځناور ”خنزیر“ دے- (په دې موقع باندې مفتي حسان صاحب دا آیتِ مبارکه تلاوت کړو:) ﴿اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَیۡکُمُ الۡمَیۡتَۃَ وَ الدَّمَ وَ لَحۡمَ الۡخِنۡزِیۡرِ﴾ ( [مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالاِیمان:: هغه په تاسو باندې هم دا حرام کړي دي مُردار او وِینه او د خنزیر غوښه) (امیرِ اهلِسنّت دامت برکاتهم العالیه اُوفرمائیل:) په عوامو کښې ډیرې زیاتې غلط فهمۍ وي- د خنزیر لفظ وئیلو سره نه اودس ماتیږي او نه ګناه ده-

## په پنجره کښې طُوطِیان ساتل څنګه دي؟

**سُوال:** مرغو ته چې د نفلي صدقے په نیت دانے واچوَلے شي نو آیا د نفلي صدقے ثواب به ملاوِیږي؟ او که چا په پنجره کښې شوقیه طوطیان ساتلي وي، او د هغوئي خیال ساتي نو آیا هغه به د طوطیانو قید ساتلو باندې ګنهګاریږي؟

**جواب:** مرغو ته دانے اَچوَل د ثواب کار دے- که چا طوطیان قید ساتلي وي، خو هغوئي ته بیا بیا دانے وراچوِي او څه تکلیف نه وَرکوِي نو داسې بند ساتل جائز دي، خو په دې کښې بنده له دا سوچ کول پکار دي چې که څوک ما بند کړي نو څنګه به وي؟ مونږ له خو وړوکے کور

کافي وي، خو د مرغو د پاره ډیره فراخه فضا پکار وي لکه واړه مهیان چې خلق د شو پیس په طور ساتي نو زما پرې ډیر رَحَم راځي، ځکه چې اوبه د شیشے په شوپیس کښې وي ځکه کیدے شي چې مهیان تلو راتلو کښې دیوالونو سره ډغره خوري او زخمي کیږي هغوئي به دا ګڼړي چې لاره ده او ډغره به خوري- زه ورته ناجائزه نه وایم، خو په ذهن کښې هُم دا راځي چې داسې شوقونه نه دي کول پکار چې د هغې په وجه یو ځناور ته تکلیف اُورَسِي- بعضې وخت خلق ډیر ښه کار اوکړي چې مرغۍ وغیره واخلي او آزاد ئې کړي، دا ښه کار دے-

## د غوا بچے د پیدا کیدو سره سمدستي خرخول څنګه دي؟

**سُوال:** زما د د څاروو (د فارم، باړے) یو وړوکے شان کاروبار دے- کله چې غوا لنګه شي نو ډیر (باړو والا) دا خَرخوِي، حالانکه هغه بچي لا د مور اَوَلِنې پئ هم نه وي څښلې- داسې کول څنګه دي؟ (علي احمد- فيصل آباد- پنجاب پاکستان)

**جواب:** عام طور خلق نر بچے په دې وجه خَرخوِي چې که هغه لوئ شي نو نه پئ کوِي او نه بچي راوړي- دا خَرخول جائز دي- خو بعضې خلق په داسې څاروي باندې رَحَم کوي، هم دا وجه ده چې داسې څاروے خَرخوَلو نه لرِ ډیر د نفرت صورت جوړیږي- خو د داسې خلقو هم یو شمیر دے چې هغوئي د هُم داسې څاروي غوښه خوښوي، ځکه چې د دې غوښه بالکل نرمه او پسته وي- د مُجرِمانه ذهن والا بعضې هوټلو والا د داسې څاروي چانپ پخوي او د چیلۍ په ځائے ئې خرخوي، ځکه چې چانپ کله وُرِیت کړے شي نو پته ئې نه لږي چې د بیزې دے او که د ورکوټي سخي دے، خو دا سراسر دوکه ده- که د قربانۍ د څاروِي د خیټې نه ژوندے بچے را اُوځي نو د هغې د حلالولو حُکم دے او که مړ وي نو غوزار دِ کړے شي - (بهارِ شريعت.348/3، حصّه:15) د کوم څاروي نه چې مړ بچے را اُوځي د هغې غوښه پاکه ده او خوړل ئې هم جائز دي-

## د خپل سر صدقه څنګه ورکړے شي؟

**سُوال:** صدقه څنګه ورکړے شي چې هغې سره بيمارياني لرې شي؟

(د يوے اسلامي خور د سوشل ميډيا په ذريعه سوال)

**جواب:** اعلي حضرت امام احمد رضا خان ليکلي دي چې د خپل سر صدقه د څاروي لکه د بيزے يا چرګې وغيره ذبح کولو په ذريعه ورکول بهتر دي- چنانچه فَتَاوٰی رَضَوِيَّه کښې دي چې شيريني (يعني خوږ څيز) يا طعام په فقيرانو باندې خوړل دا صدقه ده او چې اقارِب (يعني خپلوانو باندې ئې اوخورئ) نو صلهٔ رحمي (يعني د خپلوانو سره ښه سلوک دے) او که په احبابو (يعني دوستانو باندې ئې اوخورئ) نو ضيافت (يعني ميلمستيا ده)- او دا درې واړه خبرې (يعني صدقه، صله رحمي او ضيافت) موجبِ نزولِ رحمت (يعني د رحمت نازليدلو) او دفعِ بلا و مصيبت (يعني د بلاګانو او مصيبتونو لرې کيدلو سبب) دي- (نور فرمائي:) هُم دا حال د بيزے په ذبح کولو کښې دے- خو د تجربے نه ثابته ده چې د سر صدقه ورکول ډير زيات فائده مند دي (يعني که بيزه ذبح کړې او خيرات ئې کړې نو ډيره فائده ده او بلاګانې ډيرې زر لرې کيږي)-" (فتاوٰی رضويه، 24/185186ملتقطا) خو دا ضروري نه ده چې مريض دِ ئې پخپله ذبح کړي، بلکه چې چا له ئې بيزه ورکړه هغه ته دِ اووائي چې ذبح ئې کړي-

## په ځناورو باندې ظلم کول د قيامت په ورځ د سخت آزمائش باعث جوړيدے شي!

**سُوال:** بعضې خلق په ځناورو باندې بےانتها ظُلم کوِي، د هغوئې په حواله څه ارشاد اُوفرمائے-

**جواب:** جي بالکل! بعضې خلق په ځناورو باندې بےځايه سختي کوي وهي او خنډِي ئې لکه [د سامان ورلو] اَس ګاډي والا يا خر ګاډي والا دا مظلُومه ځناور بے وجه په چابُک وهِي او په خر باندې خو ډير ظلم کوي د هغې د ورُون خوا ته ځائے زخمي کړي او د تيم د ډبې خُله چيته

کړي او [د خر تيزولو د پاره] د هغې په څُوکه د خَر د هغه زخم والا ځائے سيخوي او کله ئي په زوره اُووهِي او هغه عاجزه د تکليف په وجه ټوپ کړي او په منډه شي- دغه شان د خرګاډو د ريس په موقع باندې هُم ډير ظُلم کيږي او ما په جوړيا بازار کښې لِيدلي دي په خرګاډي باندې دومره وزن کيږدي چې خر غريب [د ګاډي سره] بره زوړند شي که دا منظر نرم زړه والا کس اُووِيني نو د هغه په سترګو کښې به اُوښکې راشي-

يو ځل قاري مصلحُ الدّين رضوي صاحب رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه په خپل بيان کښې اُوفرمائيل چې ما يو ځل اُوليدل په يو خرګاډي کښې ډير زيات مال بار شوے وو چې د هغې په وجه هغه خَر غريب بره زوړند وُو ما چې دا منظر اُوليدو نو په سترګو کښې مې اُوښکې راغلې- قاري صاحب رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه ډير زيات نرم زړه والا اِنسان وُو او داسې خلق چې داسې مناظر اُووِيني نو په ژړا شي- خو افسوس دے په دې ظالِمَانو باندې چې هَر وخت په دې بےزبانه ځناورو باندې ظلم کوي او په زړونو کښې ئي بالکل رَحم نه راځي- دا خلق دِ ياد ساتي! چې د قيامت ورځ به وي او دا ځناور به وي او تاسو نه به د ظلمونو بدله آخلي، دا به درته د قيامت په ورځ ډيره ګرانه پرِيوَځي، خير مو په هُم دې کښې دے چې آئنده په هر ساه لرونکي څيز باندې ظُلم کولو نه ځان اُوساتئ، که خَر وي، که آس وي، که انسان وي او که وړوکے شان ميږے وي په يو باندې هم ظلم مه کوئ او تر اُوسه پورې مو چې څه کړي دي د هغې نه توبه اُوباسئ- که ستاسو خر يا آس خپل ګاډے تيز نه شي چلَوَلے نو د هغې د وهَلو په ځائے د قيامت هغه منظر په سوچ کښې راولئ چې د قيامت په ورځ به په پُل صِراط باندې تلل وي چې په هغې باندې به قدم کيښودل هم ګران وي خو بيا به هم مجبوراً په هغې قدم کيښودل وي، خلق به کټ کيږي او ښکته به غورزيږي په هغه ورځ به پُل صِراط باندې لازمي تيريدل وي په هغه ورځ به تاسو څومره بےوسه ئي، کله چې دا تصوّر ستاسو په ذهن کښې وي نو اُميد دے چې تاسو به د خپلې سوَرلئ [يعني ځناور] په مجبورئ يا کمزورئ باندې پوهه شئ-

یا الٰہی جب چلوں تاریک راہِ پل صراط　　آفتاب ہاشمی نور الہدیٰ کا ساتھ ہو
یا الٰہی جب سر شمشیر پر چلنا پڑے　　رَبِّ سَلِّم کہنے والے غمزُدا کا ساتھ ہو
(حدائقِ بخشش، ص133)

ياد ساتئ! ظلم د قيامت د ورځې تياره ده، په ورځ د قيامت به د مَظلوم لاس وي او د ظالم ګريوان، د قيامت په ورځ به مَظلوم د ظالِم نه د خپل ظُلم بدله ضرور اَخلي، د قيامت په ورځ به مظلوم کاميابيږي او ظالم به ناکامه کيږي، د قيامت په ورځ به رُعب و دبدبه او د وسلې طاقت، باډي بلډنګ، مارشل آرټ يا لوئ لوئ تعلقات د چا هُم پکار نه راځي- عقلمند هُم هغه دے چې هغه په خپلو کړو باندې پښيمانه شي او چې د چا، چا زړه ئې خفه کړے وي يا په هره طريقه ئې تنګ کړے وي د هغوئي نه معافي اُوغواړي او راضي دِ ئې کړي ګنې د آخرت په ورځ به ورته دا معامله ډيره ګرانه پريوځي يعني د قيامت په ورځ به خپلې نيکيانې ورکوي، که حج ئې کړے وي له لمُونځونه ئې کړے وي که خيراتونه ئې کړي وي دا ټول به ترينه مظلومان يَوسِي او که نيکيانې ورسره نه وي يا په تقسيمولو تقسيمولو ختمې شي او بيا ورسره د وَرکولو د پاره هيڅ هُم نه وي نو د مظلومانو ګناهونه به په سر اخلي! يعني بالفرض که ظالم په دنيا کښې نيکئ کړي هُم وي نو د قيامت په ورځ به تش لاس پاتې شي او جهنّم ته به غوزار کړے شي- د ظلم کولو نه ځان محفوظ اوساتئ ځکه چې دا لوئې مصيبت دے تر دې چې دې سره د ايمان ضائع کيدلو هم خطره ده چنانچه"الحاوی للفتاویٰ" جلد2 صفحه نمبر 138 کښ لِيک دي: حضرت امام اعظم ابو حنيفه فرمائي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه چې " د بدې خاتمے د ټولو نه لوئ سبب ظلم دے-" **الله** کريم دِ مونږ ټول د ظلم کولو نه **محفوظ** اوساتي- اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د کونترې او پيشو دوستي

**سُوال:** تاسو ګورئ چې پيشو اُوده ده او کونتره ئې تنګوي، آيا يو ځناور هُم بل ځناور تنګوي؟

(ويډيو ښودلو سره سوال اُوکړے شو)

**جواب:** په دې ویډیو کښې یوه پیشو کوَنتَره ډیر په نرمئ سره نِیسي او هغې ته د هیڅ قِسمه نقصان نه وَرکوِي، هغه ئې که په خپلو پنجو کښې نیولې هُم ده نو دومره په نرمئ سره چې کونتره په نوکانو باندې زخمي نه شي او نه د څه قسمه تکلیف ور اورسي، ځکه چې پیشو خپلې ګوتې هُم تاو کړې دي، او کوَنتَرې ته هم پته ده چې دا زما نه ډیره طاقت وره ده خو حوصلے والا ده ځکه په ډیر آرام سره د هغې په خواه کښې ناسته ده- د دې نه ډیر څه زده کیدے شي مثلاً! "څوک هم چې اُوده وي هغه تنګول نه دي پکار، ځکه چې دې سره هغه پریشانه کیږي- ! که څوک اُوده کس تنګ کړي نو اُوده کس دِ د طاقتور کیدلو باوجود د حوصلے نه کار اخلِي- دا درس هُم ترینه ملاؤ شو چې که مونږ څوک تنګ کړي یا راته کنزلې اوکړي بد رد راته اُووائي او مونږ هم هغسې بد رد اُووائیو نو بیا خو مونږ د دې څناور نه هم ډیر زیات بَد یُو- انسانانو له په دې پوهیدل پکار دي چې ورې ورې خبرې هر وخت راځي، یو بل معاف کول پکار دي-

## دین د خیر خواهئ نوم دے

**سُوال:** مونږ اَوریدلي دي که یوه د ښکرو والا چیلئ د بےښکرو چیلئ اُووَهِي نو د قیامت په ورځ به ترینه بدله اَخستلے کیږي- [نو سوال دا دے چې] که یو څناور د بل څناور سره خیر ښیګړه اوکړي لکه څنګه چې په دې ویډیو کښې ښکاري نو آیا د دې به څه اَجر ورکولے کیږي؟ (ویډیو ښودلو سره سوال اوکړے شو)

**جواب:** چیلئ خو چیلئ ده، که یو میږے هم په بل میږي باندې ظُلم اُوکړي نو د هغه نه به هم بدله اخستلے شي- (مسند امام احمد،3/289، حدیث:8764ماخوذا) که یو څناور د بل څناور سره خیر ښیګړه اوکړي د دې د اَجر ملاویدلو متعلق ما ته څه روایت لوستل یاد نه دي کومه ویډیو چې اُوښودلے شوه دا د الله پاک د قدرت کَرِشمه ده چې یوه بَطَخه دَ خپلې خُلې په ذریعه مهیانو ته دانے وَرکوِي، حالانکه بَطَخه مهیان خوري او په اوبو کښې لامبو وَهِي- د دې نه مونږ انسانانو

ته دا درس ملاويږي چې نن مونږ د يو بل د خُلي نه نوړئ راښکاږو، غلاء، شُوکې ډاکے او قتل و غارت کوو او يو ځناور په بل ځناور باندې شفقت کوي چې د خپلې خُلي په ذريعه د بل په خُله کښې دانے وَرکوِي- په دې اعتبار سره [بعضې] اِنسان د يو ځناور نه هُم اخوا دے- مونږ له د **الله** پاک د نافرمانئ نه بچ کيدل پکار دي او يو بل سره همدَرډِي کول پکار دي حديثِ پاک کښې مونږ ته د خير خواهئ يعني يو بل سره د نيکئ کولو درس راکړے شوے دے- ''اَلدِّيْنُ النَّصِيْحَةُ '' يعني دين د خير ښيګړې نوم دے- (مسلم، ص51، حديث:196)

## د خلقو خيال ساتئ

**سُوال:** جناب! دا اوګورئ! يو بانګي د چرګې خيال ساتي، خو يو اِنسان د بل اِنسان خيال نه ساتي، خلق مره کيږي [خو څوک ئې تپوس نه کوي]، لږ خلق پوهه کړئ! (يو منظر اُوښودلےشو چې په هغې کښې يو بانګې په باران کښې خپلې وَزرې د يَوې چرګې دَ پاسه خورې کړي دي او هغه د باران نه د بچ کولو خپل کوشش کوِي او دا سوال اُوکړے شو-)

**جواب:** واه څومره ښکلې خبره ده! واقعي چې ډير عجيبه منظر دے- د دې نه مونږ ته دا زده کړه پکار ده چې ځناور د يو بَل سره هَمدَرډِي کوِي نو مونږ اِنسانانو له خو يو بل سره زياته همدرډِي پکار ده- خو افسوس! چې د انسانانو يو شمير داسې نه کوِي- بس چې پخپله محفوظه وي نو بيا هر څه ټيک دي- ''د حضرت سِرِي سِقطِي رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيۡه په بازار کښې دُوکان وُو، يو ځل په هغه بازار کښې اُور اُولګيدو، ټول بازار اُوسوَزِيدُو، خو د هغوئې دُوکان بچ شو چې هغوئې ته دا خبر وَرکړے شو نو په بے خيالئ کښې ئې د خُلې نه اُووَتل ''اَلۡحَمۡدُلِلّٰه'' خو فوراً ئې خپل نفس مَلامَته کولو د پاره ارشاد اُوفرمائيلو: '' فقط خپل مال بچ کيدلو باندې ما څنګه اَلۡحَمۡدُلِلّٰه اُووَئيل! چنانچه هغوئې خپل کار پريښودو او اَلۡحَمۡدُلِلّٰه وَئيلو باندې د توبے او معافئ د پاره ئې د ټول عُمر د پاره دوکان پريښودو-'' (احياء العلوم، 5/71)

څه شان دے زمونږ د بزرګانو! دا وُو د هغوئې ذهن چې صرف پخپله د نقصان نه بچ کيدلو

باندې مه خوشحاليږه، بلکه د نورو خلقو د نقصان خيال هم ساتل پکار دي- که سيلاب راشي، د نورو خلقو مال ډوبيږي او مونږ د خپل سامان سره بهر اُوځو!!! نه! داسې کول نه دي پکار! که يو وائِرس راغلے وي او زه د هغې نه بچ شوے يم نو ماله په دې وائرس د اخته شوو خلقو سره هَمدَردِي او خير خواهي پکار ده- داسې نه ده چې يو مسلمان د بل غمخواري نه کوي- اَلْحَمْدُ لِلّٰه يو شمير شته دے چې د خلقو غمخواري کوي- **اللّٰه** کريم دِ مونږ هم غمخوارئ کولو والؤ کښې شامل کړي-

## خرمن پړسوَلو والا مَهے خوړل ښتکه دي؟

**سُوال:** چې کوم مَهے خپله خَرمن پړسَوِي آيا د هغې خوړَل حلال دي؟ (ويډيو ښودلو سره سوال اُوکړے شو چې په هغې کښې يو سړي مهے نيولے دے او هغه ګَرَوِي او هغې سره د مَهي خرمن پړسيږِي-)

**جواب:** دا بالکل مَهے دے او چې مَهے دے نو خوړل ئې هُم حلال دي- کيدے شي چې کله په دې باندې دشمن حمله کوي نو دا به دغه شان خپله خرمن پړسَوِي او خپل حفاظت به کوي چې هغه ئې په خُله کښې نه شي نيولے- په دې ويډيو کښې يو کَس دے چې هغه په لاس باندې مهے مرَبِي، دې سره کيدے شي چې په دې مهي باندې ويره راغلي وي او ځکه ئې ځان پړسَوَلے وي، که واقعي په مهي باندي وَيَره راغلي وي او هغه تکليف محسُوسوي نو شرعاً د داسې کولو بالکل اِجازت نشته، دا کس دِ توبه اُوکړي- ياد ساتئ! هر قسم ځناور بلکه يو چينجي له هُم بے وجهې تکليف وَرکول جائز نه دي- (درمختار مع رد المحتار، 663/9)

واړه ماشومان خزَندګان [يعني په زمکه ګرځيدونکي واړه واړه چينجي، ميږي وغيره] په ښپو چقوي يا پيشو د لکئ نه اونيسي اوچت ئې کړي او غوزار ئې کړي دوئي له داسې کول نه دي پکار، مشرانو له پکار دي چې ماشومان داسې کولو ته نه پرِيږدِي- کوم ځناور چې تکليف نه وَرکوي هغه بغير د څه وجهې نه وَژل نه دي پکار او کوم ځناو چې تکليف ورکوي د هغې د

وَژلو اِجازت شته لکه ماشي وغيره- البته که دا هُم مرږ کوئ نو ډير د اَسان نه آسان مرګ باندې ئې مرږ کوئ چې د کم نه کم تکليف ور ورسي، په چقولو چقولو يا په لړ لړ تکليف وَرکولو سره د مَرږ کولو اِجازت نِشته-

حضرت امام ابن حجر هيتمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: که انسان په ناحقه يو ځناور مَړ کړو يا ئې اُوږے او تږے اُوساتو يا ئې د هغې نه د طاقت نه زيات کار واخستو نو په ورځ د قيامت به د هغه نه هُم د هغې په مثل بدله اَخِستلے کيږي ځنګه چې ده په ځناور باندې ظلم کړے وو يا ئې تَږے ساتلے وو- په دې باندې دا حديث مبارک دلالت کوي- چنانچه نبي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په جَهنَّم کښې يوه زنانه په دې حال کښې اُوليدله چې هغه زوړنده وه او يوه پيشو د هغې مخ او سينه شوکوي او هغې ته هم هغسې عذاب ورکوي ځنګه چې هغې (زنانه) په دنيا کښې قيد ساتلې وه او د لوږې او تندې تکليف ئې ورکړے وو-(بخاری،2/99،حدیث:2364مفهوما) د دې روايت حکم د ټولو ځناورو په حق کښې عام دے (الزواجر،2/174) او بهارِ شريعت جلد3 صفحه 660 کښې لِيک دي: په ځناور باندې ظلم کول په ذِمّي کافر باندې د ظلم کولو نه زيات بد دي (اوس په دنيا کښې ټول حَربي کافران دي) او په ذِمّي باندې ظلم کول په مسلمان باندې ظلم کولو نه زيات بد دي ځکه چې د ځناور مُعين و مددګار د الله پاک نه علاوه بل نشته دا غريب به د دې ظلم نه څوک خلاصوي!

## د ځناورو په خپل مينځ کښې دوستي

**سُوال:** که يو ځناور په بَل ځناور باندې ظلم اُوکړي نو په ورځ د قيامت به د هغه نه د ظُلم بدله اخِستلے کيږي، په مينځه باندې عام طور سورلي نه کيږي لکه ځنګه چې په ويډيو کښې اوښودلے شو چې چيلئ د ميښې د پاسه ولاړه ده او پانړې خوري آيا د چيلئ د ميښې د پاسه داسې ختل ظُلم دے؟ او آيا د دې بدله به اخستلے کيږي؟ (ويډيو ښودلو سره سوال اوکړے شو)

**جواب:** په دې ويډيو کښې چې ميښې ځنګه سَر ښکته کړے دے او نيغه ولاړه ده دې ته

چې اوګورې نو داسې نه ښکاري چې په دې باندې ظُلم کیږي بلکه داسې ښکاري چې مینښه د چیلۍ سره تعاون کوي چې زما په ملا باندې اُوخیژه او پاڼړې اوخوره- که په دې باندې ظلم کیدلے نو دې به تږپونه وَهَلے اوچیلۍ به د مینښې سره څه مقابله اوکړې مینښه خو ډیره غټه وي- بعضې وخت د ځناورو په خپل مینځ کښې دوستي جوړه شي چې په هغې باندې مونږ نه پوهیږُو او دغه شان هغوئي د یو بل سره تعاون هُم کوِي-

## دالله پاک ذکر کوونکے ځناور

**سُوال:** مونږ دا اوریدلي دي چې فرعونیانو ته د چیندخانو په ذریعه عذاب ورکړے شوے وُو نو آیا د دې نه مخکښې چیندخان په مخ د زمکه باندې نه وُو؟ (د SMS په ذریعه سوال)

**جواب:** کله چې فرعونیانو ته عذاب ورکړے شوے وُو نو هر طرف ته چیندخان، چیندخان وُو تر دې پورې چې د خوراک څښاک او ناستې پاستې ځایونو ته به هم راتلل په دې وجه باندې هغوئي ډیر زیات تنګ شوي وو- ـ(حاشیة الصاوی، پ9، الاعراف، تحت الآیة:133، الجزء:2، 703/1 مفهوما) حضرتِ انس رضی اللّٰہ تعالٰی عنْہ نه روایت دے چې چیندخان مه قتل کوئ ځکه چې کله دوئي د هغه اور په خواه تیریدل په کوم کښې چې حضرت ابراهیم خلیل الله علیہِ السّلام اچولے شوے وو نو دوئي په خپلو خُلو کښې اوبه واخستلې او په هغه اور باندې ئې اوشیندلې (تفسیر روح البیان، پ19، النمل، تحت الآیة: 16، 330/6) د چیندخ په باره کښې دا هم دي چې دا په کثرت سره ذِکر کوي دا مه وژنئ-(معجم اوسط، 12/3، حدیث:3716 ماخوذا) د باران اوبه چې جمع شي نو چیندخان پخپله راپیدا شي، په هُم دې وجه [په اُردو ژبه کښې] یو متل هم دے [برساتی مینڈک] "د باران چیندخان" یاد ساتئ! چیندخ خوړل حرام دي- (در مختار مع رد المحتار، کتاب الذبآئح، 508/9)

## سپي جنګول څنګه دي؟

**سُوال:** سپي جنګول څنګه دي؟

**جواب:** سپي جنګول ناجائزه دي (مراٰۃالمناجیح 5/659) ځوک چې سپي جنګوي هغوئي دِ د دې نه توبه اوکړي-

## د قُربانئ د څرمنو جمع کولو 22 نِيَّتونه او احتياطونه

**دوه فرامين مُصطَفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ﴿١﴾ "د مسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے." (مُعْجَم كَبِير ج٦ ص١٨٥ حديث:٥٩٤٢) ﴿٢﴾ "ښه نِيَّت بنده جَنَّت ته داخلوي." (اَلْفِرْدَوْس بِمَاْثُوْرِ الْخِطَاب ج٤ ص٣٠٥ حديث٦٨٩٥)

**دوه مَدَني ګلونه:** (١) ښه نِيَّت نه بغير د يو عملِ خير ثواب هُم نه حاصليږي (٢) ځومره چې ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات کيږي.

﴿١﴾ رضائے اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ د پاره ښه ښه نِيَّتونه کووم ﴿٢﴾ هر حال کښې به په شريعت او سُنَّت عمل کووم ﴿٣﴾ د قُربانئ د څرمنو د پاره منډې ترړې په ذريعه به **دعوتِ اسلامي** سره تعاون کووم ﴿٤﴾ ځوک چې راسره هر ځومره بد سُلوکي اوکړي خو د غصے اظهار او ﴿٥﴾ بد اخلاقئ نه به پرهيز کووم او دغسې به د دعوتِ اسلامي د ناموس و عِزَّت حفاظت کووم ﴿٦﴾ د قُربانئ د څرمنو په سبب که هر ځومره مصروفِيَّت وي خو د عُذرِ شَرعي نه بغير به د يو لـمانځه جَمعه خو څه بلکه تکبيرِ اولٰی به هُم نه پريږدم ﴿٧﴾ پاک لِباس به سره د عِمامے شريفې او تهبند شاپړ وغيره کښې لـمونځونو د پاره ځان سره ساتم (حسبِ ضرورت ئي بسته [يعني استمال] وغيره کښې هُم ايښودے شئ. د دې خاص تاکيد دے، ځکه چې د ذبح کولو په وخت کښې وتلې وِينه نَجاستِ غليظه او د متيازو په شان ناپاکه ده او د څرمنو راټولولو والا خپلې جامے پاکې ساتل ډير زيات مشکل دي. بهارِ شريعت جِلد اوَّل صفحه 389 کښې دي: "د **نَجاسَتِ غليظه** حُکم دا دے چې که په جامو يا بدن باندې د يو دِرهَم نه زيات اولګي نو د دې پاک کول فرض دي، پاک کولو نه بغير ئي له لـمونځ اوکړو نو نه به کيږي او که قصداً ئي اوکړو نو ګناه هم شوه او که په نِيَّت د اِستِخفاف (يعني حُکمِ شريعت سپک ګڼړل) وي نو کفر شو او که د دِرهَم همره وي نو پاک کول واجِب دي که پاک کولو نه بغير ئي لـمونځ اوکړو نو مکروهِ تَحرِيمي شو يعني د داسې لـمونځ اِعاده [يعني بيا کول] واجِب شو او که قصداً ئي اوکړو نو ګنهګار هُم شو او که دِرهَم نه کم وي نو پاک کول سُنَّت دي ځکه چې پاک

کولو نه بغیر ئې که لـمونځ اوکړو نو اوشو خو خِلافِ سُنَّت اوشو او د دې اِعاده بهتره ده.“) ﴿۸﴾ د جُمات، کور، دفتر او مدرسے وغیره درئ، چټاياني [پزَکي]، قالِين وغیره او نور خیزونه به په وینه باندې ککړيدلو نه بچ ساتم (د اودس خانے په لامده فرش او پائيدان و غيره باندې هم په وِينو ککړې ښپې ايښودلو نه بچ کیدل او د اودس کولو په وخت کښې هُم د ډیر احتیاط ضرورت دے کَنې نَجاست باندې د ککړيدو او د ناپاکه اوبو څاڅکو باندې ځان او د نورو خلقو ناپاکه کولو به هم ويره وي) ﴿۹﴾ په وِينو ککړو بدبوداره جامو سره به جُمات ته نه ځم (که بدبوئي نه کوي نو بيا هُم ناپاکه بدن او يا ناپاکه جامے يا بل ناپاکه څيز جُمات ته وړل منع دي. که د زخم، دانے، جامو، عِمامے، څادر، بدن يا لاسونو، خُلي وغیره نه بدبوئي راځي نو جُمات ته داخليدل حرام دي. فيضانِ سُنَّت جِلد اوَّل صفحه لاندې نه 1217 کښې دي: جُمات د (بد) **بُوئي** نه ساتل واجِب دي وَ لِـهذا جُمات کښې د خاورو تيل سيزل حرام، جُمات کښې (د بدبوداره بارودو والا ماچس) تِيلے بلول حرام، تر دې چې په حديث کښې ارشاد شوے دے: جُمات ته کچه غوښه وړل جائز نه دي. (ابنِ مَاجَه ج١ص٤١٣ حديث٧٤٨) حالانکه د کچه غوښې (بد) **بوئي** ډير **خَفِيف** (يعني کم) وي. ﴿۱۰﴾ قَلَم، رسيد بُک، پيډ، ګلاس، د چائے پيالئ وغيره پاک خيزونه به ناپاکه وِينې نه بچ ساتم (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه مُخَرَّجَه، جِلد ٤، صفحه 585 کښې دي: ”پاک څيز (بِلا اِجازتِ شرعي) ناپاکه کول حرام دي“) ﴿۱۱﴾ چا چې **بلي** اِدارے ته د څرمن ورکولو وعده کړې وي هغه ته به د بدعهدئ مشوره نه ورکووم (آسانه طريقه دا ده چې ښو ښو نِيَّتونو سره تاسو ټول کال مُتَوَجِّه اوسئ او پخپله د مخکښې نه څرمني بُک کړئ) ﴿۱۲﴾ که د يوے سُنِّي اِدارے والا خپله طے شُده څرمن وصولو د پاره نه وي رارسيدلے، يا ﴿۱۳﴾ غلطئ سره ما ته راغله نو د ثواب په نِيَّت به ئې هغوئي ته ورورم ﴿۱٤﴾ څوک چې څرمن راکوي که کيدے شو هغه ته به د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه يوه رِساله يا پمفلټ تُحفةً پيش کووم. ﴿۱۵﴾ او هغه ته به ”شُکريه، جَزَاکَ الله“ وايم. (**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مَنْ لَّمْ يَشْكُرِ النَّاسَ لَمْ يَشْكُرِ الله. يعني چا چې د خلقو شُکريه ادا نه کړه هغه د **الله** عَزَّوَجَلَّ شُکر هُم ادا نه کړو. (ترمِذِی ج٣. ص٣٨٤. حديث١٩٦٢) ﴿۱٦﴾

خرمن راکوونکي باندې به اِنفرادي کوشش کووم او د سُنَّتو ډکې اِجتِماع او ﴿۱۷﴾ **مَدَني قَافِلو** کښې د سفر وغيره رَغبَت به ورکووم ﴿۱۸﴾ وروسته به ورسره رابطه ساتم او د خرمنې راکولو د احسان بدله کښې به هغه د **دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول** ته د راوستلو کوشش کووم که ﴿۱۹﴾ **مخکښې** نه **مَدَني ماحول** کښې وو نو د مَدَني قَافِلے مسافر يا ﴿۲۰﴾ د مَدَني انعاماتو عامِل به ئې جوړووم يا ﴿۲۱﴾ څه نه څه نور کوشش به هُم کووم (ذِمَّه دارانو ته پکار دي چې وروسته وخت اوباسي او د خرمنې ورکولو والؤ شُکريه ادا کولو د پاره ضرور لاړ شي او تول مُحسِنِين علاقائي سطح باندې يا چې څنګه مناسب وي راجمع کړئ او مختصر د نيکئ دعوت ورکړي او لنګر رسائل اوکړي يعني رسالے وغيره تقسيم کړي. د رسالو ترکيب به د دعوتِ اسلامي په چنده نه بلکه جُدا ترکيب به کول غواړي) ﴿۲۲﴾ لرې يا نزدے چې هر ځائے نه د خرمن راوړلو (يا بسته [ستهال] يا د بل څه کارسنبالولو) راته ذِمَّه دار اسلامي ورور اُووائي نو د رَد او اعتراض کولو نه بغير به ئې اِطاعت کووم. (دا نِيَّتونه ډير کم دي عِلم نِيَّت باندې پوهه خلق نور هُم ډير نِيَّتونه راوِيستلے شي)

---

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ

## نیك او لـمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کیدونکي د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیتونو سره تول شپه تیروئ ❁ د سُنَّتو د تربيَت د پاره **مَدَنِي قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِینه**" په ذریعه د **مَدَنِي اِنعاماتو** رساله ډکوئ او د هرې مَدَنِي میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَنِي مقصد: "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**" اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "**مَدَنِي انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَنِي قافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدینه (کراچئ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com